مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست
۲۰۲۶/۰۹/۰۵

# پردې میوې او وطني میوې

مولوي حسام الدین حسام دامت برکاته، له سلام وروسته سمدلاسه ګیله شروع کړه:
دا ته لا څنګه شاعر یې؟
ما ویل: شاعر خو نه یم؛ فقط کله نا کله خپل احساسات د لفظونو په جامو کې رانغاړم.
-خو همدغه شاعري ده کنه؛ موږ هم در څني د کراماتو توقع نلرو.
_اصلي خبره کوه!
_په خیالي دنیا کې غرق یې. هیڅکله حقیقي دنیا ته رانغلې او زما په وصف کې دې زما د شان مطابق مدحه و نه لیکله.
_غلی شوم، بیا مې وپوښتل: کوم کمال لرې چې شعري ارزښت ولري؟
_لاحول و لا قوة ... غاړه یې صافه کړه:
زما د کراماتو یادونه وکړه.
_حیران سوم، ما ویل راځه مه یې خپه کوه او د شان مطابق یې مدحه وکړه.
ما ویل غوږ شه:
"از کرامات شیخ ما این است
قند خورد و گفت شیرین است"
_سری غوسه شو: سر مې خلاص نسو او د یو عالم په شان کې دومره قصیره مدحه!؟
چې دا مقوله مې مانا کړه؛ نور هم په غضب شو:
ای عوامو!
واورئ په غوږونو ګناه ګارو خپلو او هغه دا چې ترڅو له موږ سره له زړه الفت ونکړئ؛ د سیلاونو، وچکالیو، قیمتیو، بې کاریو... له عذابه به خلاص نسئ.
_و مبارکه! ته خو دې کوم کرامت وښییه چې زه یې شعر کړم.
_په قهر یې وویل: نادانه، امي، نا فهمه، جا ...
ما ویل: بس، حدود مه ماتوه او زما د زغم امتحان مه اخله!
خیر دی که اوس ستا دور دی.
شیبه غلی و: بخښه دې وي. تاسي مکتبیان باید هغه تارونه ونه چېړئ چې زموږ احساسات آتشین سي.
که تا کې ذره پوهه وای؛ نو په دې به خبر وې چې کرامت هر وخت د ولي په اختیار کې نه وي.
_د اخوا د خلکو نو څنګه په خپل واک کې دي؟
سری احساساتي سو: اجنبي پرسته مخلوقه، دا کوم کرامات دي چې له هغوی صادریږي او موږ ترې عاجز یوو؟ ته خو یو مثال پیش کړه!
کوره، مثلتُ مثلاً _ :
لارې مکملې بندې دي؛ خو د اخوا شیوخ په خپله خاصه توجه دومره کېلې، آمونه، وریژې، درمل... را اړوي چې زموږ د ټولو ولایتونو په بازارونو کې قابل د مشاهدې دي؛ خو تاسو زموږ د سترو او بې وسه بنوالو او کروندګرو یوه لارې ختکې، انګور او سیبان اخوا وانه ړول. و ماته خو ستاسو په عدم توجه سوال پیدا سو!
سری شیبه غلی شو او بیا یې ویل:
نه ښایي یو عالم لره، چې ضایع کړي طلایي وخت خپل له یو مکتبي سره.
نور یې غږ داسې ورک سو، لکه لیه رانجه چې یې خوله کې تویه شوې وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ